دعبدالحّی حبیبی په اهتمام
ژباړونکی: درویش وردگ

۲۹ مارچ ۲۰۱۸

## السَّوادُ الاعظم-۲۷

**پښتو ترجمه**

**تألیف: ابوالقاسم اسحاق بن محمّد بن اسماعیل بن ابراهیم بن زید حکیم سمرقندی**

**د ۳۷۰ هجری کال په شاه اوخوا دامیرنوح سامانی په فرمان فارسی ته ترجمه شوی**

**اووه پنځوسمه مسئله**

(لومړی برخه)

داده: چی له مبتدع سره مه کښېنه، چی په خبرکی راغلی: په هرچاچی مبتدع گران وی، اوله هغی سره ناسته وکړی، له دی څخه به بدتره ده چی زرځله له کافرسره کښینی.اوهرڅوک چی مبتدع ته سلام واچوای داسی ده لکه چی مسلمانی یی له منځه وړی وی. اوهرڅوک چی دمبتدع مخ ته وگوری داسی ده لکه چی ځان یی وژلی وی اوپه خپل خون گرفتارشوی وی. اوهرڅوک چی مبتدع ته ښکنځل وکړی اوهغه دښمن وبولی هغه به دخدای عزّوجلّ په نزد فاضلترین مجاهد وی. او عبدالله ابن جعفروویل: چی رسول علیه السلام وویل: هرڅوک چی دامت دتباهی په زمانه کی زما په سنتولاس ټینګ کړی دسلو شهیدانو ثواب ورکول کیږی.

اوعروة ابن رویم وایی چی رسول علیه الصلوة والسلام وویل: زما له وفات څخه وروسته تاسو لره دصبرایام دی اوهرڅوک چی په هغه وخت زما په سنتومنگول ټینګه کړی دیوپنځوسو تنوچی په خدای عزّوجلّ مومن وی ثواب ورکول کیږی. ویی پوښتل: یا رسول الله! پنځوس تنه ددوی که پنځوس تنه زمونږ؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: پنځوس تنه ستاسو.

اوابوهریره رضی الله عنه روایت کوی چی رسول علیه الصلوة اوالسلام وویل: ای زما یارانو! تاسو ته به داسی زمانه راشی چی که له هغولسو فرامینو څخه چی درته درکړل شوی ، یو له لاسه ورکړی هلاک به شی. اوخلکو ته به داسی زمانه راشی چی له لسوفرمانونه څخه یو ترسره کړی ددوزخ له اوره به ژغورل شوی وی.

اومعنی یی داده: چی که له دوی څخه یو دسنتوموافق وکړی خلاص به شی. اوکه لس دبدعت موافق وکړی هلاک به شی.

اوحسن بصری رحمه الله روایت کوی: چی یوه ورځ رسول علیه السلام ژړل داسی چی عایشه رضی الله عنها هم ورسره په ژړا شوه. رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: یا عایشه! کوم څه ته په ژړاکړی یی؟ وویل: یارسول الله! ستا له ژړاسره می ژړا راغله.

رسول علیه الصلوة والسلام وویل: په آخرزمان کی به داسی قوم وی، چی منګول زما په دین ټینګوی، داسی چی که څوک دهلاکت په حالت کی اولاس په داسی ټینګه رسی ونښلوی، ترڅوله هلاکت څخه وژغورل شی. اودوی به دهغی قوم په منځ کی پاته وی چی له مسلمانی څخه یی یوازی نوم پاته وی.اوهغه کسانوچی زما په دین اوسنتویی منګول لګولی ، دهغی مفسدانودقوم په منځ کی به داسی وی ، چی زړونه اوبه کیږی لکه مالګه په اوبوکی.

عایشه رضی الله عنها وویل: یارسول الله ! دوی به په هغه زمانه کی څرنګه ژوند کوی؟ رسول علیه السلام وویل: دوی به په هغه زمانه کی  داسی وی لکه دسرکی چینجی په سرکه کی.

یاعایشه! دوی زما ورونه اویاران دی، ددوی یومرد به داسی مرد وی لکه اویا بدری مړونه چی زما سره یی دبدرپه غزاکی ګډون کړی وی.

یاعایشه! ما له خدای عزّوجلّ څخه غوښتی دی، چی ددوی دوست اوکارسازاوسی زما له وفات څخه وروسته. حق تعالی وویل: زه ددوی ولی یم ستاله وفات وروسته. اوکه خدای عزّوجلّ ددوی ولی نه وای، نه زه به له دنیا څخه دسخترین غم سره تللی وای.

اوعبدالملک ابن مسلم وایی چی رسول علیه السلام وویل: چی حق تعالی هغه بنده بهشت ته بیایی چی منګول یی زما په سنتولګولی وی اوزما سنت یی ژوندی کړی وی.

او ابی ابن کعب رضی الله عنه روایت کوی: چی پرتاسولازمه ده چی دسنتواوجماعت په سمه لاره اوسی! اوداسی بنده نشته چی هغه دسنتواوجماعت په لاره وی، اودخدای عزّوجلّ یاد کوی، اودخدای له ویری یی اوښکی په مخ راځی،چی هغه به اور وسیځی. اوهیڅ بنده نشته چی لاس یی په سنتواوجماعت لګولی وی او خدای عزّوجلّ یادوی اودهغی له ویری ریږدی، دهغی ونی په شان چی پاڼی یی وچی شوی وی اوباد پری ولګیږی اوپاڼی یی تویی کړی، همداسی به ددغه بنده ګناهونه تویی شی اولږطاعت چی دسنتواوجماعت موافق وی له هغی ډیرطاعت بهتردی چی دسنت اوجماعت موافق نه وی.

اوعبدالله ابن عباس رضی الله عنه وویل: چی رسول علیه الصلوة اولسلام وویل: هرڅوک چی یوکاروکړی دسنت اوجماعت موافق، که صواب وی نوقبول شی اوکه خطا وی نو وبښل شی، اوهرڅوک چی خلاف دسنتو اوجماعت کاروکړی که صواب نه یی منی اوکه خطاء وی نودوزخ یی ځای دی.

اوضحاک روایت کوی چی رسول علیه الصلوة اوالسلام وویل: هرڅوک چی له کوره ووزی ترڅو دعلم یو باب زده کړی اودهغی پواسطه یوباطل دحق لوری ته راولی اویا یوګمراه په لاره کړی دهغی کردار به دڅلویښتو کلونو دعبادت سره سم وی.

اوحسن بصری رحمة الله علیه وویل: چی هرڅوک چی یو سنت ژوندی کړی داسی ده لکه چی ټول خلک یی ژوندی کړی وی. اوحق تعالی ویلی: مَن اَحیَا هَا فَکَاَنَّماَ اَحیَا النَّاسَ جَمِیعاَ. یعنی که څوک دهلاکت په حال وګوری اوهغه خلاص کړی، اویا یوماشوم له لاری واخلی اولوی یی کړی اویا یومبتدع له بدعت څخه دسنتوخواته راولی، داسی ده لکه هغه یی چی ژوندی کړی وی.

اوزید ابن اسلم روایت کوی: چی رسول علیه السلام حضرت علی ابن ابی طالب رضی الله عنه دیمن په لوری واستاوه او وویل: یا علی! که خدای عزّ وجلّ ستا په لاس یوکس راهنمایی کړی دابهتره ده تردی چی له مشرق ترمغرب پوری ستا مال اوتعلق وی.

اوعقبه ابن عامرروایت کوی چی رسول علیه السلام وویل : هرڅوک چی دهغی سړی په لاس مسلمان شی په رینتیا سره بهشت دهغی روزی کیږی.

اوعبدالله ابن مسعودرضی الله عنه روایت کوی چی رسول علیه السلام وویل: چی حق تعالی دبدعت له خاوند څخه هیڅ کردار نه قبلوی، ترڅو له هغه بدعت څخه لاس واخلی.

اوانس ابن مالک رضی الله عنه روایت کوی: چی جبرئیل علیه السلام دغه آیت راوړ. قوله تعالی: اِنَّ الَّذِینَ فَرَّقُوا دِینَّهُم وَکَانُو شِیَعاً لَستَ مِنّهُم فِی شَیئٍ. دغه آیت دگمراهانو اومبتدعانو په هکله راغلی چی له دین اودسنت اوجماعت له لاری بیل شوی دی. پس رسول اکرم صلی الله علیه وسلم وویل: یاعایشه! هرگناهکارلره توبه شته پرته له هغوکسانو چی دبدعت اوهوا خاوندان وی، چی دوی لره توبه نشته اوزه له دوی څخه بیزاره یم.

اوخالد بن بقی وویل: په بنی اسرائیلو کی یوځوان و چی ډیرعلم یی زده کړی و. ولی ددنیا دروازه یی په مخ تړلی وه. پس بدعت یی غوره کړی اوخلک به یی بدعت ته رابلل،هغوی به اجابت کاوه اوپه همدی سبب بډای شو اوډیر عمریی وکړ. یوه شپه یی له ځان سره سوچ وکړ: داڅه وچی ماوکړل. په زرهاو مسلمانان می له سمی لاری بدعت ته راکاږه کړل. پس وویل : چی نورمی توبه ده اوبیرته راورگرځید اوپه عبادداتوکی یی په جهد لاس پوری کړ اوپه تضرع اوزاریویی پیل وکړ اوشپه او ورځ به یی ژړل. اوبیایی غاړه سوری کړه اورسی یی پکی واچوله اوځان یی دجومات په ستنه پوری وتاړه او وویل: له دی ځایه به لاړ نشم ترڅوحق تعالی زما توبه قبوله نکړی، اوکه نه ترمرگ به دلته وم. دزمانی پیغمبرته وحی راغله، چی زما دبندگانولاره وهونکی ته ووایه چی که که گناه زما اوستا ترمنځ وای نو بښلی به می وای، ولیکن دازما بندگان چی تا بیلاری کړل اوما هغوی دوزخ ته واستول ستا دعمل په وجه، ناچاره ته به هم په دوی پسی دوزخ ته ځی اوستالپاره توبه نشته اوله رحمت څخه بی برخی یی.( اعوذُبِالله من النار).

اوعتبه ابن سعید وویل: هرڅوک چی په دین کی بدعت ښکاره کړی، دهغی په زړه کی به غل اوغش پیداشی اوامن اوشفقت به یی له زړه ووزی.

اوحسن بصری رحمة الله علیه وویل: هرڅوک چی داهل بدعت غیبت وکړی هغه غیبت ندی اوگناه پری نشته.( دلومړی برخی پای).